# د مرستی

# دپاره یوه

# وړه کتابچه

# مرسته

ما ته به مدد د کوم ځای نه ملاؤ شي؟ زما مدد به د خدای نه راځي چه زمکه او آسمان يې پيدا کړي دي.

(زبور ۱۲۱: ۱-۲)

عیسیٰ مسیح وفرمائیل: "اے تاسو چه ټول خواری کوئ او پنډ مو دروند دے، ما له راشئ او زۀ به آرام در کړم. زما جُغ په غاړه کړئ او له ما نه زده کړئ، ولی چه زۀ حلیم یم او په زړۀ کښې غریب او ستاسو روحونه به آرام مومی."

(متی ۱۱: ۲۸- ۲۹)

# فکر مندی

فکرونو سره زړهٔ غمجن کیږی خو
ښو خبرو سره زړهٔ خوشحالیږی .
(متلونه ۱۲: ۲۵)

عیسیٰ مسیح وفرمائیل: " دسبا غم
مهٔ کوئ، سبا به خپل غم په خپله
کوی. د نن د پاره ننني غم کافی
دے." (متی ٦: ٣٤)

او خپل ټول فکر په هغهٔ واچوی
ځکه چه هغه ستاسو خیال لری.
(اول خط د پطروس په نوم ٥: ٧)

عیسیٰ مسیح وفرمائیل: ''ځکه زهٔ تاسو ته وایم چه د خپل ژوند د پاره د خوراک څښاک سودا پریږدئ او د ځان پټولو د پاره د جامو غم مهٔ کوئ. آیا ژوند د خوراک څښاک نه او وجود د جامو نه افضل نه دے؟ د هوا مارغانو ته و ګورئ، دوی نهٔ خو کری او نهٔ ریبی او نهٔ یی په خمبو کښی جمع کوی خو بیا هم ستاسو آسمانی پلار هغوی له رزق ورکوی. تاسو د مارغانو نه ډیر غوره یئ؟''
(متی ٦: ٢٥- ٢٦)

# خواهشات

ښتنګه چه د مرګ خاتمه نۀ کيږي دغسې د انسان د خواهشاتو هم.
(متلونه ۲۷: ۲۰)

عيسیٰ مسيح و فرمائيل: " څوک چه ځان بچ کوی هغه به يې ورک کړی، خو کۀ څوک زماد خاطره ځان ورک کړی هغه به خپل ژوند بيا مومی. کۀ يو سړی د خپل ژوند په بدل ټول جهان ومومی نو څۀ يې ومومندل؟ او د خپل ژوند دوباره موندلو د پاره هغه بيعه ورکولے شی؟"
(متی ۱۶: ۲۵- ۲۶)

د زړهٔ سکون سره ژوند زياتيږى، خو حسد ژوند تباه کوى.
(متلونه ۱۴: ۳۰)

هو ديندارى د قناعت سره ډيره د ګټې ذريعه ده. ځکه چه نهٔ خو مونږ دنيا ته څهٔ راوړل او نهٔ د هغې نه څه وړلے شو.
(اول خط د تيموتيوس په نوم ۶: ۶-۷)

# پیسی

څۀ خلق سخاوت کوی او بیا هم پیسی د هغوی لاسو ته راځی. څۀ خلق حرص کوی خو بیا هم غریبانان کیږی.

(متلونه ۱۱: ۲٤)

عیسیٰ مسیح وفرمائیل: " په مزکه ځان ته خزانی مۀ جمع کوئ چیرته چه هغه بزے وهی او زنګ کیږی او غلۀ ورپسی کنډر کوی او پټوی یی. خپل ځان ته خزانی په آسمان کښی جمع کوی چیرته چه نۀ بزے شته او نۀ زنګ چه دا خرابی کړی او نۀ غلۀ چه ورپسی کنډر وکړی او په غلا یی یوسی. ځکه چه چیرته ستا خزانه وی هلته به د زړۀ وی."

(متی ٦: ۱۹- ۲۱)

د زرو دوستی د هر قسم بدئ يو بيخ
دے.
(اول خط د تيموتيوس په نوم ۱۰:٦)
عيسیٰ مسيح و فرمائيل: '' يو غلام هم
د دوو مالکانو خدمت نۀ شی کولے. يا
خو به هغه د يو نه کرکه کوی او د
بل سره مينه، او يا به هغه د يو وفادار
وی او د بل به هيڅ خيال نۀ ساتی.
تاسو د خدای او د دولت دواړو يو
ځای خدمت نۀ شی کولے.''
(متی ٦: ٢٤)

# څيزونه

حرص هر شے خوری او نۀ مړيږی.
متلونه( ۳۰: ۱۵)
عيسیٰ مسيح و فرمائيل: ''خبردار شئ! د هر قسم حرص نه ځان ساتئ ځکه چه کۀ د يو سړی سره ډير زيات مال هم وی خو دولت د هغۀ ژوند نۀ شی زياتولے.''(لوقا ۱۲: ۱۵)
عيسیٰ مسيح وفرمائيل: '' بختور دی هغوی چه د صداقت وږی تږی دی، دوی به ماړۀ کړی شے. '' (متی ۵: ۶)عيسیٰ مسيح وفرمائيل: '' صحيفی وايی چه''بنی آدم تش په ډوډی نۀ پائی خو هغه په هره هغه خبره پائی چه د خدای د خُلی نه وځی.''
(متی ٤: ٤)

# آرام

اے زویه! د حکمت او بصیرت خیال وساته او هیڅکله هغوی د خیال نه مۀ اباسه. ستا په زړۀ کښی به یره نۀ وی او ستا خوب به په آرام سره وی.
(متلونه ۳: ۲۱ – ۲٤)

اے خدایا زۀ به په آرام سره اودۀ شم ولی چه تۀ زما حفاظت کوی.
(زبور ٤: ۸)

ستاسو دپاره سحر وختی پاڅیدل او تر ناوخته پوری ویخ پاتیکیدل عبث دی. خدای خپلو نیازولو له په خوب کښی مدد ورکوی. (زبور ۱۲۷: ۲)

خدای وفرمائیل: " شپږ ورځی خپل کارباو کوئ او په اوومه ورځ آرام وکړی." (خروج ۲۳: ۱۲)

# بنيادونه

عيسیٰ مسیح وفرمائیل: ”او هغه سړے څوک چه زما دا خبرې آورى او عمل پرې کوى، هغه به د هغه هوښيار سړى په شان وګڼلے شى چا چه خپل کور په يو مضبوط ګټ باندې ودان کړے وو. او چه باران وشو، سيلاب راغے، زول تير شو او د دۀ د کور سره يې ټکرې وخوړې، خو دا را پرې نۀ وتو ځکه چه بنيادونه يې په يو مضبوط ګټ باندې وو.“

(متى ۷: ۲۴ – ۲۵)

عیسیٰ مسیح وفرمائیل: ''خو د هغه چا به څۀ انجام وی چه زما دا خبری آوری او عمل پری نۀ کوی؟ د هغۀ مثال د هغه ناپوهه سړی په شان دے چا چه په شګو خپل کور جوړ کړے وو. باران ووریدو، سیلاب راغے، زول تیر شو د دی کور سره یی ټکری وخوړی او راپریوتو او برباد شو.'' (متی ۷: ۲۶- ۲۷)

# ملګری

د هوښيارو خلقو ناسته به تا هوښيار کړي .خو د بې عقلو سره ناسته به ضرر در ورسوي. (متلونه ۱۳: ۲۰)

تهٔ دوستان ساتلې شې کهٔ د هغوی غلطيانې معاف کوې خو کهٔ تهٔ د هغوی د غلطيانو په باره کښې بيا بيا خبرې کوې نو دوستان به بائيلې. (متلونه ۱۷: ۹)

څهٔ دوستان هسې په نامه وي،خو رېښتينې دوست د ورور نه زيات نزدې وي. (متلونه ۱۸: ۲٤)

کهٔ يو کس غورزيږي نو د هغهٔ دوست به د هغهٔ په اوچتولو کښې د هغهٔ مدد وکړي. خو څومره بد قسمته به وي هغه چه د هغهٔ د اوچتولو دپاره څوک نهٔ وي. (واعظ ٤: ۱۰)

# رشتی

عیسیٰ مسیح وفرمائیل: ”د نورو عیبونه مهٔ لټوی چه ستاسو عیبونه هم و نهٔ شی لټولے. ځکه چه څنګه تاسو د نورو عیبونه لټوئ دغه شان به ستاسو عیبونه هم ولټولے شی ، او څنګه چه تاسو د بل میچ کوئ، دغه رنګ به ستاسو هم میچ کیږی.“

(متی ۷: ۱،۲)

عیسیٰ مسیح وفرمائیل: ” تاسو د خپل ورور د سترګی خسنی ته ولی ګوته نیسئ چه په خپله مو په سترګه کښی تیر غړیږی ؟ او تهٔ څهٔ رنګ خپل ورور ته دا وئیلے شی چه راشه ستا د سترګی نه دا خسنے و باسم، هرکله چه ستا په خپله سترګه کښی تیر غړیږی؟“

(متی ۷: ۳- ٤)

عیسیٰ مسیح وفرمائیل: ” تاسو خبر یئ چه د سترګی په بدل کښی سترګه او د غاښ په بدل کښی غاښ، خو زهٔ دا وایم چه د هغه سړی برخلاف مهٔ ودریږی څوک چه درسره بد کوی. کهٔ څوک درله په ښی مخ څپیړه درکړی نو ګس مخ ور وړاندی کړه. “
(متی ۵: ۳۸ – ۳۹)

عیسیٰ مسیح وفرمائیل: ” د نورو سره تل داسی سلوک کوئ لکه څنګه سلوک چه تاسو د ځان د پاره غواړی. “
(متی ۷: ۱۲)

# جنس یا شهوت

د خپلو فکرونو ښهٔ خفاظت وکړه. ولی چه د ژوند بنیاد په دِ باندی دے.(متلونه ٤: ٢٣)

کهٔ څوک په سکروټو ( انګار) باندی خپی ایږدی نو آیا د هغوی خپی به نهٔ سوزی؟ هم دغسی کهٔ څوک د پردئ ښځی سره زنا کوی هغهٔ ته به د هغی سزا ورکړے شی.
(متلونه ٦: ٢٨- ٢٩)

یوه زناکاره او حرامکاره ښځه څوک چه خپله مینه خرڅوی په لږ قیمت اخستے شی. خو د بل سړی ښځی سره زنا به ستا هر څهٔ تباه کړی.(متلونه ٦: ٢٦)

خاوند دِ د خپلی ښځی حق پوره کوی او دغه شان دی ښځه د خپل خاوند. ښځه د خپل بدن واکمنه نهٔ ده بلکه خاوند دے. همدغه شان خاوند د خپل بدن واکمن نهٔ دے بلکه ښځه ده. تاسو د یو بل نه جدا مهٔ اوسیږئ خو د لږ وخت د پاره د یو بل په رضا د دی د پاره چه د دُعا فُرصت و مومی، او بیا یو ځای شئ، داسی نهٔ وی چه د نفس د غلبی په وجه شیطان تاسو و غلوی.

(اول خط د کورونتیانوپه نوم ۷: ۳-۵)

# رویې

نرم جواب غُصه ختمه وی ، خو سخت جواب غُصه نوره هم زیاتوی. (متلونه ۱۵ :۱)

کهٔ تهٔ خوشحالی کوی نو خشحاله به یې. او کهٔ خفگان کوی نو دا به تا وخوری.(متلونه۱۷ : ۲۲ )

زمونږ خوشحالیانی زمونږ مرسته کوی کله چه مونږ بیمار یو. خو هیڅ څیز مدد نهٔ کوی کله چه مونږ غمجن یو.(متلونه ۱۸ : ۱٤)

هر څوک دِ په آوریدو کښې تیز او په وینا کښې قلاره او په غُصه کښې سوړ وی.(یعقوب ۱: ۱۹)

# دُعا

د هیڅ خبری فکر مهٔ کوئ بلکه په هره خبره کښی تاسو درخواستونه د دُعا او زاری په وسیلی د شکر ګذارئ سره د خدای په حضور کښی پیش کړئ. نو د خدای سلامتی چه د پوهی نه بیخی بهر ده، ستاسو زړونه او خیالونه به دَ عیسیٰ مسیح په یوالی کښی محفوظ وساتی.
(خط د فلیپانو په نوم ٤: ٦- ٧)

وغواړئ در به کړے شی، ولټوئ نو و به یی مومئ، و ټکوئ نو ور به در ته بیرته شی. څوک یی چه غواړی، هغه یی اخلی، او څوک یی چه لټون کوی، هغه یی مومی، او څوک یی چه ټکوی، هغهٔ ته ور بیرته کیږی.
(متی ٧: ٧- ٨)

# عقل

د خدای نه ویره د عقل شروع ده او پاک خدای پیژندنه انسان هوښیاره وی.(متلونه ۹: ۱۰)

هغه خدای چه دنیا یی پیدا کړه او په کښی یی هر څیز هم پیداکړو، هم هغه د آسمان او د مزکی مالک دے هغه په خپله ټول کائنات له ژوند او ساه او نور څیزونه ورکوی. بی شکه چه هغه له مونږ هیڅا نه لری نهٔ دے. ولی چه زمونږ د ژوند حرکت او شته والی په هغهٔ کښی دے. لکه چه ستاسو خپلو ځینو شاعرانو وئیلی دی، مونږ هم د هغهٔ د نسل نه یو.

(اعمال د رسولانو۱۷: ۲٤- ۲۵ ، ۲۷- ۲۸)

عیسیٰ مسیح وفرمائیل: ” سترګی د وجود ډیوی دی. کهٔ ستا سترګی جوړی وی نو ستا ټول وجود به رڼا رڼا وی. کهٔ سترګی د خرابی وی نو ستا ټول وجود به په تیاره کښی وی پس کومه رڼا چه په تا کښی ده، کهٔ هغه هم تیارهٔ ده نو بیا دا څومره لوی تورتم دے. “(متی ٦: ٢٢- ٢٣)

عیسیٰ مسیح و فرمائیل: ” زهٔ د دنیا نور یم. څوک چه ما پسی رائحی هغه به په تیارهٔ کښی نهٔ ګرځی. “
(یوحنا ٨: ١٢)

په د کتاب کښی دا آیتونه د مقدس کتاب نه اخستے شوی دی.

SGM International

Pashto (TLBoH), 2004, 3. 5 m